د TWIN RIVERS UNIFIED تعليمي حوزه
McClellan, California

**د 2024-2025 کلونو لپاره په وړکتون کې نوملیکنه**

د 2024 د جنوری په 8 د دوشنبې له ورځې راپدیخوا د**Twin Rivers Unified** په تعليمي حوزه (**TRUSD**) کې ښوونځي د 2024-2025 ښوونيز کال لپاره په وړکتون او انتقالي وړکتون کې نوملیکنه پیل کوي.

په وړکتون کې د شمولیت لپاره، ماشوم باید د نوملیکنې لپاره د TRUSD لخوا د زده کړو د قانون، پالیسیو او اداري تګلارو پر بنسټ لاندې اړینې اړتیاوې پوره کړي. د نوملیکنې لپاره اړینې اړتیاوې په لاندې ډول دي:

☐ د ماشوم د نوملیکنې د فورمې بشپړول

☐ د مورنۍ ژبې د نظر پوښتنې بشپړول

☐ د استوګنځای سند په د منلو وړ اسنادو کې د لګښتونو (اوبو او برښنا) بلونه یا د ادایني رسیدونه، د کرایې یا اجارې هوکړه لیکونه، د ملکیت د مالیې رسیدونه، د معاش رسیدونه، د رایې ورکولو لپاره نوملیکنه، له یوې دولتي ادارې څخه مکتوب یا د والدینو/سرپرست لخوا د استوګنځای اجرا شوې اعلامیه شامل دي.

☐ د عمر د تاییدۍ سند.[1] د منلو وړ اسناد عبارت دي له:د زیږیدو سند، د تعمید یا د عیسویانو د غسل سند، پاسپورټ، د کډوالۍ سند، د بایبل سوابق یا که چېرې له دې اسنادو څخه هیڅ یو نه وي، نو له والدینو/سرپرست څخه باید د لوړې لیک شتون ولري. د دې لپاره چې په وړکتون، کې شامل شي، ستاسو ماشوم باید د 2024 د سپټمبر له 1 نېټې وړاندې 5 کلن شوی وي. (5) کلن ماشومان به د 2024 کال د سپټمبر له 2 د 2025 کال د جون تر 2 پورې به په انتقالي وړکتون کې شامل شي.

☐ د اړینو واکسینونو د ترلاسه کولو سند[1]

<u>په انتقالي وړکتون یا وړکتون کې منل شوي زده کوونکي، اړتیا لري چې:</u>

- ډیفتریا، تیتانوس او تور ټوخی **5 - (DTaP, DTP)** ډوزه (که چېرې یوه د زیږون وروسته په 4مه ورځ یا له هغې وروسته ورکړل شوی وي نو 4 ډوزه مناسب دي)
- د پولیو واکسین (**OPV** یا **4 - (IPV** ډوزه (که چېرې له زیږون وروسته په 4مه ورځ یا له هغې وروسته ورکړل شوی وي نو 3 ډوزه مناسب دي)
- **د B ژیړی - 3 ډوزه**
- سرخکان، ډېډغومبوری او روبیلا **2 - (MMR)** ډوزونه
(دواړه د زیږون پر مهال یا په 1 کلنۍ کې ورکول کیږي)
- **وارسیلا (د چرګانو تباکې) - 2 ډوزونه**

په مهربانۍ سره په یاد ولرئ چې د شخصي باورونو پر بنسټ له واکسینونو څخه معافیت نه منل کیږي. یوازې مجوز طبي ډاکټر (MD) یا د استوپاتیک درملنې ډاکټر (DO) کولای شي طبي استثنا وړاندې کړي.

☐ روغتیایي معاینه او د غاښونو چک کول. ماشومان باید د خپلو زده کړو په لومړي کال کې فزیکي معاینه او د غاښونو چک کولو ترسره کړي (د نوملکنې په پاکټ کې شاملې فورمې) که چېرې له وړاندې نه وي ترسره شوي، په مهربانۍ سره ژر تر ژره دا لیدنې په مهالویش برابرې کړئ.

که چېرې کومه پوښتنه لرئ، په مهربانۍ سره د ښوونځي له دفتر سره اړیکه ونیسئ. موږ ستاسو له کورنۍ سره د همکارۍ ترسره کولو ته سترګې په لار یو، تر څو ستاسو د ماشوم لپاره له بریاوو ډک ښوونیز کال ډاډمن کړو.

د 2021 کال د جنورۍ له 1 وروسته طبي استثناعات یوازې د کالیفرنیا د واکسینو د ثبتولو د طبي ویب پاڼې (CAIR-ME) له لارې په کالیفرنیا کې د مجوزو ډاکټرانو لخوا ورکول کیږي. ښوونځي او د ماشومانو د پاملرنې مرکزونه کولای شي د والدینو لخوا هغه طبي استثناعات ومني چې د CAIR-ME په کارولو سره صادریږي. که چېرې کومه پوښتنه لرئ، په مهربانۍ سره د ښوونځي له دفتر سره اړیکه ونیسئ. موږ ستاسو له کورنۍ سره د همکارۍ ترسره کولو ته سترګې په لار یو، تر څو ستاسو د ماشوم لپاره له بریاوو ډک ښوونیز کال ډاډمن کړو.

---

1 هغه کورنۍ چې د شپې له خوا یو ثابت، منظم او کافي استوګنځي نلري کولی شي زموږ د زده کونکو خدماتو څانګې سره اړیکه ونیسي 916) 566-1615 د میک کیني-وینټو (McKinney-Vento) بې کوره مرستي له مخې د خپل ماشوم لپاره د معافیت ریکارډ او زیږون سند موندلو کې د مرستي لپاره.
د 2001 کال قانون.